عبدالرحمن فرقاني ۲۰۰۹/۹/۱٦

# په افغانستان کي د بهرنيو کشمکش

دامريکا د دفاع وزارت (پنټاګون) مسولين او د عسکري پلان ځيرونکي وايی چي امريکا تلاش کوي تر څودافغانستان لپارة داکمالا تو نوي لاري پيدا کړي او وتوانيږي په دهکله په روسيه باندي اعتماد پريږدي, ان تر دي چه دامريکا نظامی او عسکري کار پوها نو دايران څخه ځمکني لاره افغانستان ته دخپلو ځواکونو او د دوي دمتحد ينو(ناټو) د ځواکونو داکمالاتو لپارة تر ځيرني لاندي نيولي ده.
دا پراخه زيار او کوښښ په دي دلالت کوي چي امريکا د خيبر رو چي له پاکستان څخه تيريږي او امريکا او نا ټو اوس مها ل ورباندي اکمالات کوي بديله لارة ګوري , ځکه چه د دوي اکمالاتي قافلي د دي لاري په اوږد و کښي د طالبانو ترپراخه حملو لاندي وی , او دا هڅه په داس وخت کی تر سرة کيږي چيرته چي د امريکا مهمه او استراتيژيکه عسکري هوايی اډه په قرغيزستان کی تړل کيږي او د امريکا ويره د روسيه په هکله نوره هم ديريږي , او دا سربيره پدي چی روسيه د دوي د عسکري اکمالاتو په رابطه چي د روسيه له خاوري کيږي او د دوي دعسکري ا ډ وو چي په تاجيکستان او اوزبکستان کی ميشتي دی خندونه را ولاړ کړي , او روسيه امريکا او ناټو په د رابطه تر خوړ ګوته ونيسي .
په همدي هکله ځيني نور دی امريکا د فوج او وزارت دفاع (پينټاګون) مسولين په ډاګه کوی چه امريکا په هيڅ صورت کی هم د ايران څخه ځمکني لاره د اکمالاتو لپارة تر غور لاندی نده نيولی او نه به يی ونيسي , او له سياسي لحاظه دا يو ليري احتمال دی , ځکه چي د ايران او امريکا تر منځ اړيکي د ومرة ښي نه دي , او دا مسولين په ډاګه کوي چه دجمهور ريس اوباما ورستني اظهارات او وړانديزونه د ايران په هکله او په همدي سلسله کی دبهرنيو چارو وزيريه ميرمن کلنټن څرګندوني او وړانديزونه د افغانستان په رابط د يو نړيوال کنفرانس را بلل او هغه ته د ايران دعوت او بلنه په د اړوند ندي چه ګواکی له ايران سرة د اکمالاتو لاري وڅيړل شي .
سرة له دي دا چه دايران څخه اکمالاتي لارة افغانستان ته تر ځيرني لاندي نيول شوی وی دا کيدي شي يوه برخه دي هغه زيار وي چه د ناټو ځواکونه ورنه استفادة وکړي او هغه لاره د شا بهار بندر چه د عربو د سمندر په غاړة پروت دي او د هغه استراتيژيکه لاري سرة نيبنتی کومه چي هند په دي ورستيو کی برابره کړي او د افغانستان له غرب سرة نيښلي او دا لاره د پاکستان په پرتله لنډة او له امنيتي لحاظه ښه ده .
د پينټاګون ويائد په ډاګه کړة چه داستراتيژيك پلان په چوکاټ کی د زمونږ عسکری ځيرونکي ټولي هغه ممکني اکمالاتي لاري تر غور لاندي نيولي کومي چه تصور يی کيژي چه زمونږ ځواکونه ورڅخه استفادة وکړي شی او دا ځيرنه د استراتيژيك هد ف له مخه شوی نه دسيا سي اهدافو له مخي .
دا دي هغي ليکنه بوه برخه ده چي څه موده وړاندي په نيويارك ټايمز کي هغه مهال خپره شوه کوم مهال چي د روسيی د سياسي خوزښت په نتيجه کي دامريکا هغه مهمه او استراتيژيکه نظامي اډه په قرغزستان کي وتړل شوه چي دامريکا د ځواکونو لپاره يي په افغانستان کي د شا رګ حيثيت درلود , روسانو دا سياسي موخه هغه مهال تر لاسه کړه کوم مهال چي امريکا غوښتل په پولند کي خپل دفاعي دستګاه ځاي پرځاي کړي .
دنظامي کار پوهانو په اند د هری جګړيز خوزښت لپاره د جګړه په ميدان کي د جګرمارو ځواکونو نظامي اکمالات خورا د اهميت وړ دي , که چيري مقابل لوری په دي وتوانيږي چي د هغه جګرمار ځواك د اکمالاتو لاره زيانمنه کړي نو هرمرو به د دي ځواك هدف ته رسيدل ستونزمن کړي . دا هغه نظامي پاليسي ده چي روسيه په افغانستان کي د يرغلګرو ځواکونو په وړاندي پکښي خپل بري ګوري او د خپل غچ د اخيستلو کوښښ کوي , دا سربيره په هغه سياسي خوزښت چي د افغانستان په سياسي ډګر کي يي خپل پلويان روزلي دي , چه په روانه سياسي کشاله کي په څرګند دول د افغانستان په سياسي سرنوشت کي د خپلي وندي غوښتنه کوي .
ټاکل شوي وه چي په دي ورځو کي ديو نظامي جوړجاړي په پايله کي روسيه خپل هواي چاپيريال د امريکا د اکمالاتو ليږدونکو الوتکو په مخه پرانيزي د سياسي کتونکو په اند په دا راز پريکړو کي يو اړخ روښانه وي ټول يي ګوري او په مطبوعاتو کي هم د هغه څرنګوالی خپريږي خو بل اړخ يي پټ او سري وي چي د پريکړی کونکو تر منځ خوندي پاتيکيږي , دير کتونکي په دی اند دي چه روسان په افغانستان کي خپل پلويان په سياسي راتلونکي اداره کي شريکول غواړي چه کيدي شي د ورستي جوړجاړي په پايله کي لوديځ ورته منلي وي , دا غوښتنه د افغانستان په سياسي چاپيريال کي د سياسي ډلو اوشخصيتونو په څرګندونوکي په روښانه توګه رابرسيره شوي آن تر دي چي د روسيه سفير په افغانستان کي هم ورته څرګندونه وکړه , کيدي شي چي همدا د روسيه سياسي خوزښت چي د لوديځ د اغيزمن شتون په مخه کي خندون راولاړوي لوديځ د ته اړ شوي دي چي له خپلو مخالفو جګړيزو ډلو سره د جوړجاړي خبري ګړندي کړي چي د افغانستان په داخل کي ورسره لاس ګريوان دي لکه چي په مطبوعاتو کي


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

ګونګوښي رابرسيره شوي دي , يو شمير کتونکي خو د ا خبري په داسي پرمختللي پړاو کي ګوري چي دير څه د يوه جوړ جا ړي لپاره ندي پاتي او امريکايانو د وتلو لپاره مهال ويش هم منلي خو خپل شتون د محدودو عسکري اډوپه ډول په افغانستان کي غواړي , دا سربيره په هغه داخلي ستونزو چي د امريکا اداره ورسره مخ شوي , او دا داخلي غوښتني يو ځل بيا د هغه پاڅونونو په شکل کي را ژوندی شوي کوم مهال چي د ويتنام په جنګ کي د امريکا په ټولنه کي راولاړي شوي , چي دامريکا د ځواکونو د وتلو غوښتنه يي کوله , اوس مهال د امريکا په ټولنه کي دا غوښتنه بيا را ژوندي شوی چي د امريکا د ځواکونوله افغانستان څخه دبيرته ستنيدو غوښتنه کوي لکه چي د امريکا او لوديځ معتبري خيرونکی اداري يي پخلی کوي .

دا هغه لاملونه دي چي د افغانستان د راتلونکي اداري او د ټولټاکنو پايله يي له ګواښ سره مخ کړي ده , که چيري د يوه پردي سياسي اخ او ډب نه ډك چابيريال کي يو حکومت را منځ ته کيږي نو هغه حکومت به تر کومه ځايه د افغانستان د بيوزله ملت غوښتني پر ځاي کړي ؟


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئوليت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نويسنده ميباشد، خواهشمنديم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بداريد.